د مقالی لیکونکي : آین پونډ س(Ian Pounds) .

منبع اودنشریدو نیټه : دمی (۳۰) کال (۲۰۱۲).

ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل) .

-----------------------------------------------------------

# ژوند د اوباما په امپراتوری کي .

## دامریکی اجنداپه افغانستان کی:

## دیو غیر نظامی کره کتنه

The American Agenda in Afghanistan: a civilian’s Review

یوه ریښتیا نی شی کوم چي مونږ د جنګ په اړین ویلی شو هغه دادی چي په جنګ جګړه کی ډیر زیات مرګ او ژوبله تر سترګو کیږي .

زه پخپله یو دواطلب ښونکي یم ، ما څلور کاله د مخه داوباما داداری د یوی ټول پوښتنی اوغوښتنی په څواب کی کوم چي نوموړی اداره د سولی د لاری داواره ولو او د سولی د مینځ را تللو د پاره دواطلب ساتونکوته بلنه ورکړی وه ځا ن می نوماند کړ ، هغسی دواطلب ساتونکی کوم چي نه یونیفورم واغوندی اونه ټوپک ولری ، اوس دادی چي زه په کابل کی د ساتونکی د دندی ترسیوری لاندی ښونکی یم اودخپل ښونکی د دندی څلورم کالیزی لمانځم په همدغه موده په کابل کی بی مور اوپلار کوچنیانو ته زده کړه اوتعلیم ورکوم ، دیادونی وړ بولم او هغه دا چي ما په کابل کی پخپل ګا ونډی توب کی دټوپک او چادونو غږ کوم چي د شپی له نیمای څخه ترسهاره پوری یعنی دلسو ساعتونودپاره دوام لرل واورېدل یعنی داچی لس ګړی سخته جګړه دوام درلود ه ، سهار وختی (CNN) داسی یوخبر خپورکړ: شورشیانو کوم پیښنه اویا حاد ثه چي پیل کړی وه هغه سر ته ورسید ، کله چي ما دغه خبر واورید یوناڅاپه سر ته می ټکان ورکړچی(نه)اود ځان سره می وویل واوره دولګرد(زړاند) مرمی ته چي زما دکوټی دپا سه څڅګه

په پروازاوچټکتیا تیریدل ،مګر دویلو وړ مطلب دادی چی( سی ان ان) ښځګه په بی پروایی سره داسی یو خبر نشر ته سپاری .

دوه اونی وروسته جمهور ریس اوباما د خپل دوهم ځل ټاکنی په اړین له هغه وعدو اوهوډ څخه چی پخپل لمړی انتخاباتی ویناو کی کړی وه په حیرانونکی بڼی سره خپل پالیسی ته تغیرورکړ یعنی له خپل سپارل شوی وعدو څخه واوښتل، هغه یعنی اوباما بی له دی چی په رسمی بڼی سره خپل سفر افغانستان ته اعلام وکړی په نیمای او توره تیاره شپه کی حامد کرزی دافغانستان جمهور ریس سره دستراتیژیک سند دلاس لیک کولو دپاره کابل ته ورسید دحامد کرزی سره دغه پټ او په بیړه سره لید نه د سولی اود امن د مینځ راوستلو د پاره په غوځه توګه سره دخلکو په اند دپاملرنی کوم وړ مطلب نه ګڼل کیږی ، اوباما دسند دلاس لیک کولو په وخت دخپل په پرانیستی وینا کی داسی وویل چی امریکی غواړی چی دغه اوږد جګړی ته د پای ټکی کیږدی او نور دغه جګړی ته به زیاتی دوام ورنکړی د لته ځنی کره واقیعتونه موجوددی کوم چی اوبامادهغه له یادونی څخه پخپل ویناکی سر غړونه وکړ اوزه غواړم چی هغه واقییعتونو اودهغه واقیعتونو څرګندونه په ډیرمنل شوی اودکام دمشرتابه په بڼی له تاسوسره شریکه کړم اوداځکه چی دکور مشر یا پلار ښه پوهیږی چی په کوم بڼی اومیتود سره لکه چی اوباما خپل ډیر په اصطلاح پت لرونکی ډاډ اوباور سره خپل لرلی شیان یی شریکه کړ تا سوته یو په یو څرګند کړم :

لمړی : امریکایان په افغانستان کی (۴۰۰) په یواو په بل رنګ اډی یا نطامی قرارګاه لری .

دوهم : دایتلاف دسرتیرو نظامیانو د(۳۵۰۰) مړو له جملی څخه چی دافغانستان په دی روانه جګړه کی خپل ژوند دلاسه ورکړی دی په سلو کی (۶۵٪) خما دراتګ له نیټی څخه را وروسته مړ شوی دی یعنی ډیری مرګونه په دی لس نیم کلنو اوپه تیره بیا په دی وروستی

دری کلنو کی را پیښ شوی دی .
دریم : (۲۰۰۱ ) کال په دی لسو کلنو جګړه کی هغه یواځنی کال دی چی ډیرو ملکی خلکو خپل ژوند د لاسه ورکړی دی یعنی ډیرغیر نظامیانو په دی کال کی مړ شوی دی .
څلورم : دادی دامریکی متحده ایالات په افغانستان کی د دولس کلن تړون د لاس لیک کولو ځخه وروسته ددوه راتلونکی کلونو دپاره یو بل تړون لاس لیک کوی کوم چی په هغه کی د تړون تفصیل او جزیا ت دمتن په سیوری اوپه کلماتو کی خوندی شوی اویا پوښل شوی دی اوداځکه چي متحده ایالات د خپل حمایوی رول په لوبولو کی ځان ناکام بولی په تیره بیاکله چی افغانی قوتونه پخپله امنیتی عملیاتونه خپله ترسره کړی ،دبلی خواځخه په ورته بڼی سره د یو هیواد داوړدی مودی په اشغال کی ګډ همکاری اومشارکت په هر ستوزمن اوسختو پیښو کی په ګډه سره ترسره کیږی .
ددی واقیعتونواوڅرګندونوفکر اواند یښنه کول ددی تیاره تونل په انجام اوپه پای کی د هغه کم نور رڼا د ژوروالی میچ او پته لګول ډیره سخته بریښی ، اود همدی واقیعت په نطر کی نیولو سره لا تر اوسه دامریکی متحده ایالات دخپل سرتیرو د وتلو دپاره له افغانستان څخه په اوس وخت کی کوم ډول ځانګړی پلان او پروګرام نه لری ، امریکی دی باید په دی پوه شی چی هغه ورته پروګرام کوم چي په عراق کی دخپل سرتیرو شمیر کم کړل په افغانستان کی د هغه پروګرام په تمه کی دی ونه اوسیږی، ځکه چي په عراق کي د سرتیرود شمیر کمید نه کوم ا ستراتیژیک اهمیت نه درلود اومونږ ولید چی امریکایانو خپل سر تیری کویټ هغه نظامی اډی ته کوم چی د هغوی د استاذیتوب اود اسخبارات پرضد داسخباراتو دنده ور په غاړه شوی دی اودهغوی دبغداد سفارت ته نژدی پروت دی په اسانی سره نقل مکان ورکړل .
دامریکایانو له خوا افغانانو ته سپکاوی او ژوبلونه ډیر اسان بریښی

مگر له یاده ونه ایستل شی چی افغانانو د دی ډول سپکاوی زغم نه لری او دهغه پایلی ډیر بورنونکی دی اوبیا په ځا نګړی بڼی سره ډیر ګران بریښی چی افغانی قوتونه دجبهی په لمړیو کرښو کی جګړی ته ورودانګی کوم چي ناتو په هغه کی پاتی راغلی سره دهغه چي دهغوی بی پیلوته الوتکی او ځانګړی قوتونه دپاکستان اود ایران سره په جګړه کی ښکیل دی ، او البته دا چی که چیری مونږ څه شی غواړواو یا یو څه شی ته ضرورت ولرو نو په هغه صورت کی دا زمونږ حق دی اویا داچی زمونږ عقل مونږ ته داسی لار ښونه کوی چی د خپل تر شا نا ستی چوکی ته یا قرار ګاه ته کوم چی په یوه هیواد کی د جګړی په وخت کی دعملیاتو د سر ته رسولو د پریکړی اډه بلل کیږی پام واړو ، یعنی خپل لرلی کیک باید چی پخپله وخورو یعنی خپلی پریکړی پخپله وکړو.

لاتراوسه پوری کوم چي دامریکي نظامي اډي په کوبا ، ایلسلوادور، کولمبیا ، جرمنی ، ژاپان ، فلیپین ، سهیلی کوریا ، تایوان ، کویټ ( اوحتی په ویتنام کي د اډی د پرانیستلو پر سر روان خبری ) وجود لری ،دتاریخی پس منظر له مخی دشواهدویوه پاڼه هم په لاس کی نشته چی امریکی پر یوهیواد باندی وروسته له یرغل او اشغال څخه وتلی وی ، نو له دی کبله زه د لته اویا په دی برخه کی څه مرسته نشم کولی اما دغه فرضیه کولی شم چي وړاندی کړم اوهغه داچی نن (۷۰٪) امریکایان ددی روان جګړی سره خپل مخالفت ښکاره کوي، اودا په دی معنی دی چی دخلکو دغه لویه اکثریت آسانه نه دی چی اوباما دخپل وینا په فصاحت اوبالاغت سره بی له دی چی د خلکو سوالونو ته ځواب وواېی لکه چی پخپل لمړی انتخاباتی دوره کی خلکو ته قناعت ورکول اوس خلک چپ اوارام کړی .

زمونږ دسولی دجایزی ګټونکی(اوباما) کله ناکله دخپل ماموریت یعنی د جمهوری ریاست په دوره کی په بمب غورځونوکي(هغسی چی مونږ

پوهیږو لکه پرافغانستان ، عراق ، لیبیا، سودان ،یمن او پاکستان په شپږ و مسلمان هیوادونوکی ) تورن شوی دی هغه یعنی اوباما په افغانستان کی دجګړی دمخکی بیلو په منظور دخپل سرتیرو شمیر له سلو زرو څخه هم لا پسی زیاته کړ، اوباما هغه کس دی کوم چی په یو اړخیز بڼی سره بی پیلوته الوتکی ته دنده ور سپارلی دی چی خپل وژونکی عملیات ته دنړی په هر ګوټ کی دوام ورکړي ، قانون پوها ن داسی وړاندیز کوی چي که چیری دغه بی بیلوته الوتکو ته دنده ورکړل شی چی دامریکا په ښارونو کی پر امریکایانو باندی بمونه وغورځوی ایادامریکی په دننه کی نظامی قوتونه ، پولیس اود سپني ماڼی واکداران به قرارکیښینی اود دی مرچکی د پاشولو مخه به ونه نیسي ؟په برنامه کی چی هرشی وی هغه دی وی اما یوه خبره چی بلکل روښانه دی هغه دادی چی ښاغلی اوباما کوم چي د امریکي د ټولو قوتونو علی سرقوماندان دی هغه پخپله یو غټ جنګ طلب دی هغسی چی مونږ ته په دی تیره لیسزه کی معلومه شو .

دستونزي یوی برخه په دي کي دي اوهغه دا چی ما دخپل توان په لرلو سره داسی فکرکول چی زه قهرمان به شم که چیری ما خپله رای هغه چا ته ورکړای وای چی هغه ممکن دکارونوله عهدی څخه وتلی وایی ښاغلی اوباما هغه څوک چي هغه دهغه مدافع وکیلانو له جملی څخه نه دی چی د قضیی دپریکړی د پاره محکمی ته ولاړ شی ، هغه داسی یو مدافع وکیل دی چي هغه غواړي په شاتنی کوټه کی داسی یو معامله وکړی چی محکمی ته د تګ ضرورت په مینځ کی نه وی،مونږمنصفه اومینځګړی هییت یا داچی مونږ هغسی خلک یوچی خلکوته دقضاوت کولوحق نه ورکووحتی تردی چي هغه ایاوال ستریت ته خلاصون ورکولی شي ، د روغتیایی خد متونو خرڅلاو ،دجنګ اودجګړی اعلام بی له کوم قانونی مجوز څخه ، همدارنګه بی له کوم منل شوی بین المللی قرارخخه د مستقلو هیوادونو پرخلکو باندی دبی

پیلوتو الوتکو بمباری اود بی گناه ملکی خلکو وژنه او قتل عام یا دیو امریکای هستوگن ترور بی له کوم مدافع وکیل په لرلوسره دغسی وضع او حالات د ژوند په ټول اړخونو اوسطوحوکی غمیزاوناهیلی کونکی دي زه او زما په شان ډیری خلک داوباما دخبرو اود ویناو دمهارتونوپه لرلو سره ترتاثیر اواغیزی لاندی پریوتي یو ، او هغه لکه گوریگوری پیک(Gregory Peck) یا آل پاسینو (Al Pacino) یا پاول نیومن (Paul Newman) د عامه خلک دژوند په ټولو برخو باندی په عمومی بڼی سره خبری اتری کوی اوداسی بریښی چی هیواد دپرمختگ په لوری پخپلو خبرو کی بیایی .مونږ اوس دهغو مشرانو په عوض کوم چی مو دهغو نومونه پورته یاد کړ داسي یو سړی یا مشر تر لاسه کړی کوم چی هغه کولای شی دغه روانه وضع اوحالات تر ډیره وخته پوری وروسته له سړی جگړی څخه وساتي ، امپراطوری اود قدرت ریښتیانی آرامی او زړه گرمی کوم چی اوس په امریکی کی ځاله کړی له ځلویښتو کلونو راهیسي دهرم د پاسه زیرمه شوی دي .

هیڅوک په ریښتیانی توگه سره نه پوهیږی چي متحده ایالات په ټول نړی کی څه شمیر نظامی قوتونه یا سر تیری لری کوم چی ټول نړی تر خپل ولکی لاندی راوستي ، اغلباً داسی معلومیږی چی مسول مقاماتو نه غواړی چی د خپلو سرتیرو شمیر ښکاره اوڅرگند کړی خود شواهدو اود دلایلو له مخی داسی تخمین کیدای شی چی دامریکی دسرتیرو شمیر زرنو نفر ته رسیږی .

زمونږ دځنو ځنو د پاره ددغه واقعی لاندی ارقامو یادونه به ډیر حیرانونکی ښکاره شي : او هغه داچي دامریکی متحده ایالات په کال (۲۰۱۱) کی دهیواد په دفاعی چارو کی(۷۱۱) ملیارده دالرپه مصرف ورسول یعنی وروسته د (۱۴) هیوادونوڅخه کوم چي هغوی په نظامی چاروکی ډیرمالی اوبودجوی لگښتونه لری لکه(چین ،روسیه ، بریتانیا،

فرانسه ، جاپان ، عربستان ، هندوستان ، جرمنی ، ایتالیا ، برازیل ، سهیلی کوریا ، اوسترلیا ، کانادا او ترکیه ) چی دهغو نظامی لګښتونه په یوه کال کی مجموعاً (۷،۶۹۸) ملیارد دالرښودل شوی دی نوپه دی بنیاد ویلی شو چی داوباما جمهورریس قدرتمندامپراتوری دبشریت په تاریخ کی لا تر اوسه هیڅ څاری نه لری ، اوهغه یعنی اوباما د خپل دغه بی څاری قدرت د په کار اچولو څخه هیڅ نه ډاریږی .

زه وتلی یم : دا به ماته دجمهوری ریاست لمړنی انتخابات وی کوم چی زه دیو کاهل شخص په صفت خپل رای می نه دی کارولی یا چاته می رای نه دی ورکړي،اوزما په باورسره خما ناهیلی توب اودغمګینی عملی بی معنی اوبی مفهوم توب په دی کی انغښتی دی چي څوک به په دی انتخاباتوکی ګټونکي وي .په امریکي کی ښه خلک په دروغجن ، تیروتو ،اغواګر ،پودری اوله ډیرمودی څخه راهیسي دقهرجن خلکو په صفت نومول شوی کوم چي هغوی د همدی صفاتو په لرلوسره دبډاینی ، اودقدرتمند کیدوله رحمت څخه بی برخه اوهم دانترنیت څخه د نه پکار وړلو له امله دوی اصلاً دنړی له پیښو او اطلاعاتو څخه بی خبر خلک پاتی دی . دیادونی بل داهمیت وړ مطلب دادی چی دغه د سپینی ماڼی دروغجن واکداران اودهغوی ترلاس لاندی د خبرونو اود اطلاعاتو خرڅونکی میدیا د ۹/۱۱ د پیښي په اړین له دروغو ډ که اوګمراه کونکی اطلاعات خپور کړل چي دنړی ټول خلکو د هغو په دی ناسم اوګمراه کونکی خبرو باندی یوه شول .دنوروهیوادونو داشغال اود رانیولو انګیزه اوخوزښت دیو ټولګی د نظرخاوندانو اود ډله ایزو رسنیو له طرفه په ډیر احمقانه بڼی سره دخلکو په وړاندی اطلاعات او خبرونه خپوروي اوپه خبرو کی هیڅکله ددغه ناروا چلن اوعمل د بند ید و اویا د بند ولو پر موضوع باندی څه نه وایي .

نورزه نشم کولی چي دامریکي په مشواړاو په مسخره لوبو اوکړنو کی ګډون وکړم ، یا نشم کولی چي هلته چا ته بډي ورکړم ، یا هلته

ماليه ورکړم اويا هم هلته خپل وخت بی ځايه اوبی ګټی دلاسه ورکړم ، دغه پورتنی يا دونی هغه ساده مثالونه دی کوم چي ځما د پاتي کيدو موضوع په افغانستان کي ديو دواطلب ښونکې په صفت چمتو کړی کوم چي زه بی مور اوبی پلار ما شومانو ته درس ورکوم ، زما خوښيږی چي پخپل کوټه کی يواځی ژوند وکړم ، زه اکثر وختونه وريجي اولوبيا خوروم ، زه په هفته کی يو ځلي ځان پريمينځم ، زه اوس غربيان اوغربي خلک نه ګورم ، يواځی افغانان ګورم ، زه تقاعد اوتقاعدی پيسی نه لرم ، کوم اضافی عوايد هم نه لرم ، هره مياشت ډير کم پيسي سپموم ،کوم ارث نه لرم اود ميراث په تمه هم نه يم ، همدارنګه بايد ووايم چي زه کوم شخصي ملکيت هم نه لرم او بايد په ډاګه کړم چي زه په اصطلاح سره دامريکنی توب خوبونه هم نه وينم اوداځکه که چيري پخپل هيواد کی اوسيد لي واي نو په هغه صورت کی ځما ژوند هم څه مفهوم اومعني نه درلود، دلته اکثر خلک پرما لوريږی اوزړه سواند لري اوپه پای کی که چيری دلته ما څه هم درلود لي واي ما ته بی مفهوم اوبی معنی وای .

زه ريښتيا نی اوپه واقيعت کی کوم سياسی سړی نه يم ،بلکه دانسا ن اود انسانيت پالنی په نهادونو او جبهو کی کار کوم ، افغانی کوچنيانو ته درس ورکوم او په خفا کی هغوی ته ځني ضروری اود ورځی موضوعات ليکم ،زه نه غواړم چي په مستقيم بڼی سره يو سياسی فعال سړی اووسم اودخبرو دپاره کوڅو ته اووځم ، زما ډار دانقلاب اودهغه دهرومرواود حتمی سرلوړي اود پيښيد و په مورد کی دي او هغه داچي دغه پيښيد ونکي انقلاب بيا د کوم لوی غل او سارق له خوا غلا نشي لکه هغسی چي يو پولينډی خبريال ما ته داسي وويل ؛ « انقلاب خپل بچيان غړپ ( بلع) کړ ل» اما دغه انقلاب که چيری په امريکی کی مينځ ته راشی نو هغه به يواجتماعی انقلاب وی ، کوم چی دهغه هيواد په اساسی قانون کی دځنو اصلاحاتو سبب وشي ، نو په دی بنياد شايد

چی دلته کومه لاره موجود اووسي پس ویلی شو چی د جافرسن (Jafferson) خبری ریښتیانی دی او هغه داچي هغه ویل چی انقلاب په یوه ملک کی هر ځوکاله وروسته پخپله پیښیږی نو دپورتنی وینا په نظرکی نیولوسره ویلی شوچي امریکایوډیرجدی اوقوی بدلون اوانقلاب ته ضرورت لری ،مګر اوس په نوموړی هیوادکی پرسرداقتدار قوتونه دهرډول اقدام مخه نیسي نوپه دی وجهه په هیڅ بڼی سره دانقلاب ځواکونو اورهبری ته دا چانس په اوس وختونو کی نه په ګوته کیږي اما هغه شی چی زما په فکر او اندیښنه کی ګرځی هغه دادی چی امریکایانو اوس اوس دری ډیر لوی خطری اوتهدیداتو سره مخامخ دی لکه :دنړی دچاپیریال دفاجعی مخه نیول،امریکایانودخپل دموکراسی د کالیو (متاع) دلیږدولو دپاره دټاکلو ادرسونه په نښه کول او په نړی کی دجنګ جګړی دمخکی بیولو دپاره دجنګ دسلاح اودمهماتو ډیرول هغه دری لوی تهدیدات دی کوم چی امریکایان ورسره مخامخ دی .

زه حیران او په دی اندیښنه یم چي مونږ ترهغه وخته پوری څه نشو کولای ترهغه وخته پوری چي د بیکاری کچه ٪۲۰ اود هر ګلن ګازبیه شیږ ډالرو ته لوړ نشي هیڅ ضروری تحول اوبدلون په ټولنه کی نشو راوستلي ،اودبلی خواځخه داموهم باید هیره نشي چی دامریکی ننی واکداران تر خپل وسی وسی پوری په دی هڅه او اند کی دی چي د دغه دوه شیانوفیصدی اوارزش پورته لاړنشی ولو که د نور و چو (قاره) په بمباری هم تمام شي ، نو تر هغه وخته پوری دغه واکداران غواړی چی دامریکی وګړی بیا هم تر اوږدی مودی پوری امریکایی خوبونه ووینی او په لوړ تیا غوښتنو کی ډوب اوسي ، په هر صورت دادځوانانودنده دي چي دغه ضروری بدلون اوتغیرپه ټولنه کی راولي اما په تاسف سره چي په امریکي کي ځوانان زیاتر په فردګرایي( خپل ځاني ) اودخپل ځان په شوق او خوش ګذ رانی کی ډیر مصروف قشر دی ، زه فکر کوم چی ددی تحول دپاره یو بل نسل ته ضرورت

ليدل کيږی چې هغوی د وضع په نظر کی نيولو سره دبدلون دراوستلو
دپاره هرډول قرباني ورکولوته ځان چمتو کړی ،اودهمدی ځان ترید نو
په رڼا کی د زاړه نظام بنیاد له بیخه رانسکور کړی .

زما دهیلو او ماته دمرستی رسولو يواځنی سرچينه اووسيله ديوی
سوله ايزاوغښتلی سولی د پلی کولو د پاره دافغانستان دغه بوږنوړی
اورنځځپلی کوچينيان دی کوم چی پخپل ټول وجود کی دوطن پرستی
په احساس کی خوږی اوترخی ورځی ليدلی دی اوداهغه قشر دی چی
دوی دخپل ټولنی په ټولو ستونزو باندی پوره پوهاوی لری ، زه نه
غواړم چی د هغوی ماغزه د چا له خوا پريمنځل شی يا هغوی له
مبارزی څخه منع کړی لکه هغسی چی هر ښونکی ځما په شان
غواړی زه هم هغوی هڅوم چی دزده کړی سره مينه ولری د حقيقت
اود حکمت په لټه کی اووسي او په پوره ايمانداری سره خپل تحصيل
ته دوام ورکړی اود بشردحقونو اود اخلاق سره په اړين پوره پوهاوی
تر لاسه کړی او دانسان په نوم دهر انسان احترام وساتي .

افغانستان :هره ورځ کله چي د خپل د ندی د سرته رسولو اويا
د خپل ماموريت په لوری پرورشگاه ته ځم پخپل لاره کی وينم چي
دښار په خځلو او په لوی کثافت دانيو کی کوم چی دښار په هرگوټ
کی تر سترگو کيږي په لس گونو کوچينانو د وراسته او پس مانده
غذايي موادو په لټون کی وی او پخپل معصومانه لاسونو انبار شوی
کثافت دی خوا اوهغه خواته اړوی ترڅو چی کومه ټوټه وچ ډوډی اويا
دخوراک د پاره څه شی پيدا کړی او يا داچی بيشميره نارينه او يا
ښځينه ( په چادری يا بورقه کی ) دگدای دپا ره خپل لاسونه دښار هر
لاروی ته اوږد وی چی که چيری يو څه پيسی تر لاسه کړی اوخپل
کورنی دپاره يو څه خواړه برابر کړی لاکن د بلی خوا څخه په همدغه
روانه جگړه او ناسم حالاتو کی په ډير چپ اوچوپتيا اويا په ډير ارامی
سره ميلونرانو د تعمير پسی تعمير ونه جوړوی او دخپل گشت وگذر

دپا ره په سل زریز (۱۰۰۰۰۰) دالری موټرونو کی ښکته او پورته ګرځی یا دهغو بچیان شخصی ښونځیو ته وړل کیږی او راوړل کیږی دښار په څلور لارو اوکوڅو کی ګڼ شمیر مزدورانو او کسبه کارانو په دی انتظار کی سترګي په لاری ناست دي چي که یوڅوک پیدا شي اوهغوی په ورځ کی دیوامریکایی ډالر په ارزش روز مزدوری دپاره په اجاره ونیسي ، لا تراوسه پوری په کابل یعنی دهیواد په پایتخت کی برق ټیکاو نه لری اوګړی په ګړی ځی اوراځی ، د ښار په د ننه کی یولړ پرمختګونه لکه داونو کیښینول ، د ګلانو کرل ، د پیاده رونو اود ځنی کوڅو جوړول او پاک کول ، او همدارنګه دیوی تپی یا د غونډی پرسر د نوی پارلمان دودانی اسکلیت هم تر سترګو کیږی چي دا ټول ځنی وړی او ناچیزی پرمختګونه دی کوم چی دغربی مالیه ورکونکو نیوکی راپارولی دی اوهغه داچي دهغوی پیسی ولی په سمه لاروکی نه مصرف کیږی یعنی ولی پولیس د بی نقشی تعمیرونو اود بیکاره ساختمانونو مخه نه نیسي اویا داچي ولی ددی هیواد قاچاقبران ، جنګی جنایت کاران،انسان تیښتونکی ،اوحتی افراطی بنیاد ګرایان لکه طالبان په قانونی بڼی سره نه محکمه کیږی اویا داچی هغوی ته ولی وخت ورکول کیږی چي دخپل ګناهونو دبخښلو دپاره سره ټول په دی لټه کی دی اوسی چي دخپل ضد انسانی کړونو دپا ره ځان ته مشروعیت پیداکړی ، هغه بیروکراتیک اقلیتونه کوم چی د نفتی موادو داقتصاد پر بنیاد اود پانګوالی پر مظاهرو باندی ځان بخت ساتلی دی اوخپل ټولنه یی بلکل له یاده ویستلی دی ولی دهغو څخه پوښتنه نه کیږی ؟

بی ویلو دی پا تي نشي چي دلته اوبیا په ځانګړي بڼی سره په کابل کي ژوند د کال (۱۹۹۰) د تورو ورځو په پرتله یو څه بهبودی موند لي دي اودغه بهبودی په واقیعت کی دپریکړی دنیولو په اندازي پوری چی ایابریالي یاناکام ،صحیح اویاغلط وه؟اړین ښکاری اودهمدی متداوم حکم پربنیاد وه کوم چی زمونږ پښه دلته را وکاږل شو یا دلته

مو حضور پیدا کړل ؟
دادی چي وروسته د لسو کلنو څخه یو زیات شمیر بډا ، دولتمند او زبرځواک هیوادونه په افغانستان کی ځانته ځانګړی موقف او مقام تر لاسه کړل ، افغانستان په نړۍ کی یو له هغه پنځم بیرته پاتی هیواد څخه شمیرل کیږی چی دخلکو دژوند توقع اوانتظاردیرټیت دی ، یعنی دلته دخلکو دژوند توقع (۴۸،۶) کال اټکل شوی ، همدارنګه دغه هیواد دنړیۍ دهغه پنځم بیرته پا تی هیوادونو له جملی څخه دي چی د ښځو دژوند توقع د نا رینه په پرتله ډیر ښکته دي ، د دی هیواد له مجموعی نفوسوڅخه یواځی (۲۴٪) په منظم ډول سره دپاکی صحی اوبوڅښلوته لاس رسی لری ،(۲۴٪) افغانان له پنځلس کلنی څخه پورته باسواد دی دباسواد ښځو شمیره په افغانی ټولنه کی ډیر ښکته دی ، دنړی په هر دری مهاجرو کی یوافغان مهاجر دی چي به دی بنیاد سره (۳) میلونه افغانان اوس مهاجر دی ، دوهیواد په دننه کی د مهاجرو اویا دبی ځایه شو خلکو نفوس (۱،۳) میلونه ښودل شوی دي ، دتاریاکو تولید په دی هیواد کی په دوامداره بڼی سره مخ په زیاتیدو دی یعنی په اوس وخت کی دنړی (۹۲٪) تاریاک په افغانستان کی تولیدیږی، اتلس میاشتی مخکی افغانستان په نړی کی دیونادار او فقیر هیواد په توګه وپیژندل شو د ملګرو ملتونو د فقر دشاخصونو په نظر کی نیولو سره (۹) میلون افغانان د نیستی په ښکتنی کرښه کی ژوند کوی ، یعنی (۳۶٪) افغانان په مطلق ډول سره نادار او فقیر دي ، او پاتي( ٪۳۷) نور افغانان دفقر د کرښی څخه یو لږ څه پورته ژوند کوی ، بی دویلو پاتي نشي چي بین المللی ټولنه دافغانسټان سره (۵۷) ملیارد دالر مرسته کړي چی ددی مرستو څخه یوه برخه یی په نظامی فعالیتونوکی لګول شوی اونور پاتي پیسي لا تراوسه نه دی معلو چي چیری اود چا له خوا په مصرف رسید لي .
دافغنستان حدود او پراختیا د تکساس دښار په اندازه دی چی په دی

هیواد یعنی افغانستان کی (۲۹) میلیون خلک ژوند کوي ، زما پوښتنه له تاسی محترم جمهور ریس څخه دا دی چي سره دهغه کوم چی دنړی (۴۶) هیوادونه د (۱۳۰۰۰۰) سرتیرو او د نیم تریلیون ډالر بسپنی سره چی باید په افغانستان کی یو قوی سوله ایز او دموکراتیک ټولنه جوړ شوی وای ، ولی جوړ نشو ؟

**ښځي وژغوري** : تیرکال درویتر توماس (Thomas Reuter) بنیاد پخپل یو راپورکي په ډاګه کړ چي په نړۍ کي دښځو دپاره ډیر بد اوخطرناک ځاي افغانستان دي،همدارنګه په دی روان اوني کي دنړۍ دموردورځی په راپورکي تردی شعارلاندي چي (کوچنیان وژغوري ) افغانستان په (۱۶۴) هیوادونو کی وروسته له نایجریا څخه دومی هیواد دی کوم چی باید ماشومان وژغورل شي ، همدارنګه په افغانستان کي د ښځو د مړني کچه اومقیاس هومره لوړ دی چي دنړی دنورو هیوادونو په پرتله په دوم مقام اود کوچنیانو دمړنی دلوړ مقیاس له مخی په نړۍ کی دریم مقام لری. په افغانستان کي یونارینه دپاره بلکل مجا ز دي چي که چیري د هغه ښځه دهغه هیلی اوِغوښتني ونه منی پر هغه باندی خواړه بند کړی اوپر هغه باندی په زوره جنسي تیري وکړي . دکابل څخه دباندی په هرځای کی او دتیلفون په غرفو کی د ښځی اوبیا په ځانګړي بڼی سره د کو چیانی ښځی کوم چي له سره تر پښو پوری په پرده اوحجاب کی پټ ښکاری عکسونه او پورتیریتونه تر سترګو کیږی کوم چي دا پخپله د افغانستان ښځو ته د نجات ورکولو دیو نماد اوسمبول معنی ورکوی اوداځکه چي لا تراوسه حتي په کابل کی ښځی چادری یا بورقه اغوندی ، د طالبانو نوی قانون دکرزی له خوا ومنل شو : اوهغه داچی یوه ښځه بی له خپل نارینه اویا محرم سړی د باندی نشی وتلي ، اودخپل کار په محل کی هم باید دهغه سره دهغه محرم یا دهغه نارینه یوځای وي اوکه چیری دغه پورتنی شرایط ورته چمتو نه وی یعنی دهغه دپاره محرم سړی موجود ونه اوسی نو هغه دی باید

تر ممکنه حده پوری په کورکی اووسی اودباندی ونه وځي ، تلویزیون
په یو کوټه کی چی نارینه اوښځی موجود اووسی دښځی عکس باید
ونه ښیي یا ښکاره نکړي ، ژورنالستي ښځي ، ښځینه هنر مند ان ،
دپارلمان ښځینه غړي ، ښځینه ښونکي ښځینه قانون دان او ښځینه
فعالین په روتین بڼی سره تهد ید او حتي په قتل رسیږي یواځی
(۱۳٪۹ انجنو ښونځی ته ځی ، اودهغو له جملی ښځه یواځی ( ۷٪)
تر اتم ټولګی پوری زده کړه کوي ،له هر دری جنکو ښځه دوه جنکي
په زوره سره واده کیږي ، چی زیاتی دهغو کوم چی په زوره سره واده
کیږی له (۱۶) کلنو ښځه کم عمر لري ، پروسږکال (۸۸) جنیکیا نو
پخپله پریکړی وکړل چی له دغسی بدمرغه ژوند ښځه ځان ته نجات
ورکړی.
د طالبانو له منګولواودهغو دشریعت له قوانینو ښځه دښځو د آزادولو
نا ری سوری (فریادونه ) مو ښه په یادیږي ، او اوس په دی پوهیږو
چی هغه فریادونه اوداد و بیداد دیرغل د پا ره یوه پلمه وه حتی هغه
وخت کوم چي ځنی زمونږ په ګوتو سره هغه ورځ چي ګوندی ښځه
د طالبانو له منګلوښځه آزاد شی شمیرل یعنی هغه ورځی چي یوشمیر
افراطیانو په غرونو کی بودوباش کول ، او په خبری شبکوکی اصلی
خبر پردی واقیعت تینګار کول چي په افغانستان کی ښځی او پیغلی
جنیکیودپا ره ژوند دنړی له هر ګوټه ډیربد اودغمیزی سره مل اوککړ
ژوند دی، نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره دغه له موره ښځه
ګران اومهربان مدعیان په دی هڅه اواند کی بخت وه چی هر ځومره
زر د ښځو د پاره د ژوند شرایط باید دلته (افغانستان کی ) مساعد شي
اومونږ هم په دی انتظار کی وو چی د بد بختیو د ګیلاس نیمایی ډک
پیمانه کوم چی مخکی دلسو کلنو دافغانستان دښځو د بدمرغیو ښځه
استاذیتوب کول ښه به شی اما نن ګوروچی دهغه ګیلاس پاتی نیمای
برخه دبد و ښځه لاپسی له بدو نه بدتر ډکی شول .؟

داولی ؟ دجنګ ستونزی په یوه معنی اومفهوم سره د مینځه تللی دي یا په بل عبارت جنګ له خپله خپل ستونزی له مینځه وړی دي دیو دقیق ځیړنی څخه ریښتیانی ښی ښانی اوڅرګندونه تر لاسه شوی اوهغه داچي دجنګ پیل او شروع په واقیعت کی ډیر بی معنی اوبی مفهوم ښکاري یعنی کیدای شی چی په ټول هیوادکي کوم چی تر اشغال لاندی دی بمب وغورځول شي ، اوپه موجوده حالت کی یو څو زره ناروا او فساد پیشه خلک غرونو ته پناه ویسی چی دا پخبله ډیر یو عادی مساله ګڼل کیږي راځی چی داسی یو فرضیه ونیسو اوهغه داچي د (۹/۱۱) له پیښی څخه عذاب کښل په نظر کی نیسو ؟ پس د دی معنی اومفهوم څه دي کوم چي تقریباً ټول لوړ پوړی مجرم واکداران اوبیا په ځانګړی ډول دامریکی د مخفی هوایی حمل ونقل دتحریم سره سره له قندوز ساحی څخه په کال (۲۰۰۱) د نومبر په میاشت کی پاکستان ته په تیښتی سره بریالی شی ، له بلی خوا څخه په دی ورځو کي دجنګ معنی اومفهوم دتروریستانو دشبکی په مخنیوی پوری کوم چي په افغانستان کی له سره فعال شوی او یا مینځ ته راغلی دی تړلی دي اود(سی آی ای) په قول سره اوس په افغانستان کی د القاعدی یواځی ( ۱۰۰) جنګی غړی په عملیاتونو کی سره بخت دی ،اوپه عین زمان کی دتروریستانو شبکه نن دنړی په ټولو هیوادونو کی تیت دی په هرصورت په افغانستان کی دالقاعدی په لاس دمهمو اوارزښتناکو منابعو رانیول پخپله دهغه هیواد داشغال مجد د اوهم د طالیانو دبیا را ژوندی کید وپه معنی اومفهوم دی ، دبلی خوا که چیری مونږ پاکستان ته په میلونو ډالرمرسته کوو نو دبلی خوا څخه د(آی اس آی ) له طریقه دپاکستان په افراطي ډلو ټپلوباندی بمونه هم غورځوو، په افغانستان کی دیوی خوا څخه که داردو منسوبینو ته ترییننګ ورکو نو دبلي خوا څخه همدغه ترییننګ شوی سرتیری پر خپل تربنرانوباندی ډزی کوی او له پښو یی غورځوی ، اوس اوس داوباما په خبرو کی داسي اورو چی

وایی: مونږ اوس دجنجالی اومخوف طالبانو سره په مستقیم مذاکراتو کی بخت یاستو اوهغوته مو وعده کړی چی هغوی دافغانستان په دولتی قدرت اوواک کی شریکه کړو چی داپخبله یو تراژیک اوپه عین وخت کی یو مجبوریت هم دی او په دی کی دوه وړاندیزانغښتی دی :یا داچي مونږ ډیر پیاوړی اوبی تکلفه څواکمن یو اویا داچی دلته څنی نور اجندا داشغال د توجیهی د پاره زمونږ د رهبرانو په ذهن کی موجود دی چي مونږ ورباندی نه پوهیږو.

که دافغانستان اشغال (نیواک) کوم چي دافغانانو په زړونو او اذهانو کی به څه اغیزی غورځولی وی یوی خواته پریږدو ؟ اویا داچی داسی یو منفوراورټل شوی دولت کوم چی موپه افغانستان کی مینځ ته راوړل ایادا به دهریوپوه سړی په لږ لید کی بی له یوه لویه گناه اودافغانستان د خلکوسره غیرله یوستر جفا بل شی کیدای شی ، یا داچي که د اوس څخه تقریباً په مجموعی توگه سره د زمانی په لحاظ زر (۱۰۰۰) یرغلیز شپی اوبیا دشپی له طرفه دتیرکال ددوومیاشتو په موده کی د خلکوپرکورونوباندی دشکمنو د نیول په نیت د ځانگړی ضد تروریست قوتونه یرغل ته پام واړو داپوښتنی به مونږته راپیدا شي چي د (۳۵۰) شکمنو دنیولو په څنگ کی به څومره افغانی کورنی دیرغل ورووړلوپه نیمایی شپو کی په وحشت ولویدلی وی ،څه شمیربی گناه خلک بند یان شوی ، رټل شوی ، وهل شوی او یا به خپل ژوند دلاسه ورکړی وی اویا داچی دهر بد اوشکمن سړی په بندی کولو سره به څه شمیر نور بد اوشکمن خلک را پیدا شوی اویا نوی مینځ ته راغلی اوسي ؟ که سړی چیری دمړو اودتلفاتو شمیر په نسبی بڼي سره په نظر کی ونیسي دا به جوته شی چي د (۹/۱۱) دپیښی څخه په ټولو مخکی کلو نو کی د مړو اود تلفاتو شمیر دومره لوړ نه وه کوم چي دنومړی پیښی څخه وروسته خلکو خپل ژوند په جنگ جگړه کی دلاسه ورکړی دي ، دبلی خوا څخه داسی ویل کیږی چي دمړو( ۲/۳) برخه د شوریشانو له خوا

ترسره شوی دی اما دریښتیانی ارقامو او احصایو په نه لرلو سره نور پاتي( ۱/۳) برخه مړی به څنګه توجیه کړو غیر له دی نه چي په ښکاره بڼی سره ووایو چی بی ګناه ملکی افغانان ددواړومتخاصمو خواو څخه که شورشیان یا امریکایان دی په شهادت رسیدلی دی اویا داچی که چیری په افغانستان کی د امریکایانو (۴۰۰) نظامی اډی موجود نه وای نو ولی به جنګ کیدل اویا ولی به خلکو خپل ژوند دلاسه ورکول اویاداچي که چیری په افغانستان کی غربی قوتونه میشته شوی نه وایی نو بله داخلی جګړی دتروریستانو سره به ولی مینځ ته راتلل؟ که واقیعتونه په ریښتیا نی بڼی سره په نظرکی ونیسو اوس اوس دافغانستان ډیری برخه دطالبانوپه واک اوکنترول کی دی اوناتوله ډیرو ساحوڅخه په شا شوی اودافغانستان دولت په دی موردکی ځان بی خبر اچولی دی،اوبله داهمیت وړمطلب دادی چی په افغانستان کی لاتراوسه داخلی جنګ دوام لری او هیڅ نه دی دریدلي ،مونږ دغه داخلی دوامدار جنګ داسی څیرو اوهغه داچي د دښمنانو اودقاتلانو ترمینځ ( زمونږ د دښمن ، د ښمن زمونږ دوست دي )جنګ دی اوتراوسه په دی لسو کلونوکی دوام لری،تاسی داموضوع داسی وګڼي:که انګلستان ، هسپانیه او فرانسه په جنوب کی په ګډه سره یو کمزوره یوالی اووحدت سره کړای واي اودهغوهڅه اواندپه دی کی واي چی په شمال کی د امریکي داخلی جنګ ته ماتی ورکړای وای یا هغه جګړه په ټپه درولی واي ؟ نوڅه موده او وخت ته ضرورت لیدل کیدل چی دغه داخلی جنګ خپل پای ته رسیدلی وایي ؟

په متوسط اوپه مینځګړی توګه سره دافغانستان وګړی سره د هغه چي بی لوست او لیک دی اما په ډیرحیرانونکی بڼی سره ددغه کاری زخمونو او ټپونو کوم چی چا ورته اړول له هغه څخه باخبر اود هغه پرمعنی اومفهوم باندی ډیر ښه پوهیږی نو له همدی کبله دی چی دهغوی زړونه اوذهنیتونه دامریکی پرضد اودخپلوګټو پر خوا اغوښتی

يا اړول شوی دي .
هغه نارينوواويا هغه ښځينوو كوم چی ددی جنګ جګړی په معنی اوپه مفهوم نه پوهيږی نو دهمدی ناپوهی له امله نن د ځان وژنی كچه له پخواڅخه لاپسي بداوبد ترشوی دی اوله بلی خواڅخه له هغو راپوړونو څخه كوم چی تر لاسه شوی له هر (۵) امريكايي سرتيری اويا دريايی تفنګدارانو څخه يو نفر د جګړی څخه وروسته په تروماتيک د ماغی اختلال او تشوش باندی سره ككړ شوی دي. تاسی اوس كولی شی چی ددی روان جګړی دناوړو تاثيراتو په اړين دځان سره فكر وكړی چی په دی لس ( پنځلس – شل كلنو ) كالونو اويا په دی پنځه او شپږ دورو اويارونډونو كی دامريكي پرټولنه اوپرماليه وركونكوباندی څه تاثيرات اواغيزی به غورځولی وی ، او څو كاله به دهغو په د ماغی اختلال سره دككړو سرتيرو درملنه دوام وكړی او څه مقدار پيسی به دهغو ددرملنو دپاره ضرور وی دهغو په كورنی كی به څه رنګ تشويشونه بيدا شوی وی ، يا داچي څوتنو د مخدره موادو سره معتا د شوی وی ، يا داچی كورنی خشونتونه څومره زياته شوی وی په يقينی ډول سره چي همدغه ناخوالی دامريكی په ټولنه كی به خپل لوړوڅوكوته رسيدلی وی اودبلی خوا څخه داهم بايد په ياد كی وساتل شی چی د جګړی څخه راپاتي معيوبين سربيره پرهغه چی درملنی او مواظبتونو ته ضرورت لری نو د بلی خوا څخه ډير قوی ، مجهز او سمبال شوی طبي پرسونل ته هم ضرورت لری كوم چی هغوی بايد پښی غوسي ړانده ، مسموم شوی ، كوڼ شوی ، او..... څخه پوره څارنی وكړی اوهم د هغو دكار ددوام د پاره غټ مالی لګښت ته هم ضرورت وی ؟ نوی اوعصری جنګونه دتلفاتواويا دضايعاتو په محنيوی اوكمښت كی ستربدلون راوستی دي ،مثلاً كه دويتنام اودهغه څخه دمخكينيو جنګونو دتلفاتو سره پرتله كړل شی . ګرځنده طبی يونيټونه تر زياتی اندازي پوری دانسان دژوند په ساتنه اويا دهغه په سمد ستی درملنه او مراقبت

کی ډیر سترنقش لوبوي کوم چی د جنګ د جبهی ترشا زخمیانو او ټپیانوسره په ډیر چټکی پوره مرسته کیږی او یا داچي دجراحی ننی لوکس اومعاصرتجهیزات ددی جوګه دی چی ډیرلوی اومغلق عملیاتونه په ډیر کم رسک او اختلاط سره ترسره کړی ،لاکن دتلفاتو اودضایعاتو کمید ل دټپی سړی یا له زخمونو څخه راپاتی ندبی اوداغونه اویا حتی داحساسی مرګونو د ډیر لوړیدو په معنی اومفهوم نه دی ، اوس جګړه ماران د ډیرو شریر اود بوږنونکی کړونو مرتکب کیږی چی سړی ورته هک اوپک پاتی کیږی یعنی خپل مقابل لوری بی له دی چی کوم انسانی احساس او عاطفه ولری هغه په ډیرناوړی بڼی سره له پښو غورځوی اویا یی وژنی ، جګړه مارو اوس په هغه موقف اومقام کی نه دی چی دجنګ د عواقبو اویا د جنګ د پیل علتونه له هغو څخه وپوښتل شی یا دهغو څخه کوم چی خلک جګړی ته لمسوی اویا جنګ جګړه رهبری کوی ماخذ ه کړل شی اویا ورڅخه پوښتنی وشي ؟

همغسی چي جنګ پخپله یوبی معنی او بی مفهوم پدیده دی نو هرهغه بهانی ،دلایل او نښی نښانی چی ورته جوړیږی هغه له یو سره غلط اوخطا وی ، نو په دی بنیاد سره مونږ باید یوځلی له سره خپل شا ته وګورو او د جنګ هغه ټول بهانی او دلایل کوم چي ورته جوړ شوی دی ښه یی وازمایواو هغه له هرپلوه وڅیړواودهغه دولي پرځواب باندی ځان هرومرو باید پوه کړو،جمهور ریس ایزن آور(Eisenhower) په کال (۱۹۶۱) کی مونږ ته داسی یو خبرتیا ورکړ:هغه وویل چي مونږ باید خپل نظامی صنعتی مجتمع جوړکړو. که نه نوزمونږ ددموکراسي ریښی اونښی نښانی به دړی وړی شي ، هغه خپل توضیحات په لاندی توګه سره لنډوي :

دامریکی په اوسني تجربه کي ددی ضرورت لیدل کیږي
چي مونږ باید ثقیله او دروند نوی اوعصری سلاح او
نظامی مخکی تللی مهمات ولرونوددی هدف درسیدو دپاره

باید دی چی یوه نظامی صنعتی مجتمع جوړ کړو کوم چی
ددی نهاد په درلودلوسره به زمونږ اقتصاد ، سیاست او حتی
معنویت به هم پیاوړی شي نو په دی بنیاد دهغه نهاد ددرلودلو
په اړین لازم بریښی چي په هر ښار،هر ایالات ،هرکور اوپه
هره شعبه کی دهغه د جوړولو د ضرورت په هکله خلکو ته
خبرتیا ورکړ شي ترڅو چي رسمی بڼی ځانته پیدا کړي ، او
دبلی خوا څخه مونږ نه باید دستونزواود پرابلمونو له نه درک
اوپوهیدوڅخه ځان ته کوهي وباسو ، منابع اود معشیت ټول
ضروری شیان زمونږ دټولني د جوړښت د پاره ضروری او
ډیر مهم ګڼل کیږی .
په دولتی شوراګانوکی ددی دپاره چي زمونږ نفوذ اوتاثیرزیات
شی نو دهغو په مقابل کی کوم چي غواړی زمونږ پر ضد خیل
نفوذ زیات کړی محافظ او ساتونکي ته ضرورت لرو او داخکه
چي دهغو دنفوذ زمینه لا تراوسه په شوراګانو کی زیات دی نه
چی په پوهاوی اویا نه پوهاوی سره زمونږ د نظامی صنعتی
مجتمع په مقابل کی خنډ نشي اوداځکه چی دفاجعی د مینځ راتلو
دپاره لاتراوسه دهغو سره قدرت شته .
مونږ باید په هیڅ توګه چاته دا اجازه ورنکړو چی ددی ترکیب
وزن اودرنښت پخپل ګټه واوړوی اوزمونږ آزادی یا زمونږ
ددموکراسی جریان په خطرکی واچوي ،مونږ باید دخپل هدف
دپلی کولو دپاره هیچ چاته تضمین ورنکړو یواځی زمونږ پوه
اوهوښیار ښاریان او وطنوال کولای شی چي زمونږ د دغه
لوی صنعتی نظامی مجتمع له ماشین څخه په مسالمت آمیز ډول
سره دفاع وکړی او زمونږ آزادي ، اهداف ، اداره او امنیت ته
پوره رونق ورکړي .
هغه مونږ ته اخطار او خبرتیا ورکوی چي څه واقع کیږی ، مونږ

وانه اوریده یا فکرمو نه وه. جنګ خو ایدیولوژی نه دی بلکه اقتصادی دی . هغه یعنی جنګ د پیسو محافظت اوساتنه کوی ، جنګ یو بیزنس ( شغل اوتجارت دی) اودامریکایانودیوزیات لوی فیصدی خلکو اقتصاد ته ګټه رسوی ، یعنی په موجوده حالت کی له (۳،۸) تریلیون دالر وړاندی کړل شوی بودجی څخه (۲۴) فصده د فاعی اونظامی چارو ته ، (۲۲٪) روغتیا ته ،(۲۲٪) متقاعدینو ته ، (۱۲٪) عامه هوساینی ته اونور پاتی (۲۰٪) یی ځنی نورو موضوعاتو ته ( دبودجی دکسر او تنقیض په حالاتو کی ، تعلیم اوزده کړی دپاره ، دسرکونو اود پلونو دجوړولو دپاره اوداسی نور)په نظرکی نیول شوی دی . د(۲۰۱۳) کال دفاعی بود جه دپاره (۹۱۲) بیلیون دالروړاندیز شوی دی ، دغه پیسي به چیری ځی اویاپه څه کی به لګول کیږي؟څه مبالغ به یی دخصوصی امنیتی شرکتونو د سلاح اود نظامی مهماتو د قراردادیانو او یا د تیلو دشرکتونواود هغوددلالانو په جیبونوکی ولویږي ؟په واقیعت کی یواځی په نړی کی یولوی اډی ته ،واړه ښارونه ،روغتیایی مرکزونه، مغازی ، روغتونونه ، هوایی ډګرونو ته مراجعه وکړی او وګوری چی دغه پیسی چیر ته ځي .

په هرصورت مونږ ددی توان نه لرو چی ووایو جنګ دی نشي ، باید اقتصادی خبری دی وشي .

راځی چی پرنوروهیوادونوباندی دسلاح اود نظامی تجهزاتو د خرڅلاو ارقام له نظر تیر کړو : په کال (۲۰۱۰) کی متحده ایالات د سلاح اود نظامی مهماتو دخرڅلاو څخه (۱۷۱) بیلیون دالر تر لاسه کړ ، دومی هیواد روسیه دی چی دسلاح اودنظامی تجهیزاتو د خرڅلاو څخه پرنورو هیوادونو باندی (۸۱) بیلیون دالر او فرانسه یواځی د نظامی سلاح اود تجهیزاتو له خرڅلاوڅخه پرنوروهیوادونوباندی (۳۷) بیلیون دالرترلاسه کړلی دي فلهذا اوس ویلی شو چی جنګ یوبیزنس اوتجارت دی کوم چي اوس په افغانستان کی په وضاحت سره تر سترګو کیږی

اوبیا په ځانګړی بڼی سره کوم چی زه هره ورځ دغه بیزنس په رڼو سترګو ګورم .

## اوس څه ؟

کیدای شوچی دغه هیواد یعنی افغانستان په بل رنګ او ډول اویا په متفاوت شکل سره وجود درلودای ،اود پرمختګ مهم پړاونه وهلی واي خو ریښتیانی خبره دا دی چي افغانستان په اصل کی لکه د سلټ (slate)دتختي په څیر پاک او قلم نه خوړلی یوهیواد وه لاکن په تاسف سره چي دځنو خودغرضو ذهنی اود خیال پردازو مشرانو او رهبرانو یوپه بل باندی سره د مټ اړونو په وجهه برباد او ویجاړ کړل شو، که ددغه رهبرانو سره یو څه عقل او پوه موجود واي نودغه هیواد به په ډیر آرامی او ساده ګی سره مستقیماً له شلم پیړی څخه یویشتم پیړی ته به اغوښتی وایی ، او په ډیر آسانی سره به سمسور شوی وایی ، خصوصاً که دانرژی دتولید ثابت او تلپاتی پروژی ، کرهنیز اود اوبو لګولو مدرن پروژی ، ځنی تولیدی وړی پروژی لکه د منسوجاتو ، اودکالیوپروژی اودهغو سمبال د پنبی د داخلی تولیداتو پواسطه اود غالیو د اوبد لو پروژو ته پوره پام اړول شوی واي .اویا داچي که پرخلکوباندی ددی رهبرانو زړه سواند موجود واي،کیدای شو چی دغه کرغیرن جنګ په یو شپه کی ختم شوای وای یعنی که ټول شبهه نظامیان خلع سلاح شوای وای او د جنګ د مجرمینو د محکمی دپاره ځانګړی محکمی پرانیستل شوای وای کوم چی دهمدی اقداماتو په سر ته رسولو باندی سره به هرومرو د عامه خلکو باور اواعتماد راجلبیدل . او په عین زمان کی کیدای شو چی د یو سکولر اساسی قانون طرح او تصویب د دغه په فشار سره دقدرت اود پیسو داصلی تمرکز پرځای یوغیر متمرکز دموکراسی په یو غیر متمرکز اجتماعی جوړښت کی منل شوای وای کوم چی د ټولنی د پرمختګ اوبیا په ځانګړی توګه د افغانستان دټولنی د پاره یو ا ساسی ګام کیدای شی چی

منا سب واي. اوس اوس ننی افغانستان له څلورو اویا له پنځو وړو جمهوریتونو څخه تشکیل شوی دی اوهریو ددی جمهوریتونو مشران او واکداران خود مختار اوهر کاره دی ، بی ویلو دی پا تي نشي چی د رهبرانو اود مشرانو شمیر هم کم نه دی یو هغه د له مشران دی چي دافغانستان اتفاق او دخلکو یو موټی توب غواړی (دهغو لاسونه د بی ګناهو افغانانو په وینه کی نه دی لړل شوی)دوی زیاتر تعلیم یافته ،پوه ، آزادی خوښونکی ، افغان دوست ښځی او نارینه دی ، دوی اوس په یوه ګوښه کی سره ددی انتظاربا سی چی د دولت څخه د باندی سره یو موټی شي اود همدی هد ف د سرته رسولود پاره خپل مینځی خبری اتری سره پیل کړی دی .

له هغه نه څه مخکی هڅی اواند دافغانانو د ذهنیتونو د اړولو د پاره څه وه ؟یواځی که تاسي دکابل افقی خط ته ځیر شی یادهغه افقی منظره وګوري تاسو ته به دا را څرګند شي چی دلته څو ناحیی اوځایونه دی لکه چي دکوم پردی هیواد خلکو دهغه په شاوخوا کی میشته شوی اویا بین المللی سرګردان مها جرین دی چي په انزوا کی ژوند ترسره کوی دبلی خوا څخه له دی هیواد نه تقریباً (٪۴۰) مرستی لکه د سیفون (siphoning)د عملیي یا د تخنیک په شکل بیرته د غربی هیوادونو بانکونوته انتقال مومی یا داچی اوس تاسي په کابل کی ډیر لوی او پر مصرف دوادو اود خوش ګذرانی د محفلونو قصرونه اوتعمیرونه ، دخرڅلاو لوی مغازی ، آبشارونه هتلونه اورستورانونه ګوری کوم چی ددوبی په ستایل سره اعمار شوی او هیڅ افغانی ښکلا نه لری.

اوس غربیان غواړی چی له دی هیواد څخه پښی سپکی کړی یعنی ووځی اویا داچي له دی بل کړل شوی اورڅخه غواړی ځان لری وساتی نو دهمدی بنیاد په نظرکی نیولو سره اوپه منطقه کی د خپل ګټو دخوندی کولو دپاره پیسي په مصرف رسوی ، مګر دادی با ید په پام کي وساتل شی چی ددی جنګ لوبغاړی په پراخه اندازی سره خپل

ژوند دلاسه ورکوی اودغه داخلی جنګ به دوام وکړی اود هغه د ختم نیټه لا تر اوسه چاته نه دی معلوم ، دقدرت پرسرجګړه اومبارزه به د پاکستان ، هندوستان ، ایران روسیه ، اود چین سره به دوام وکړی اوپه دی هیواد کی به په متوسط شمیر سره هستوګن اومیشته خلک به ددی جګړی له دوامه څخه به تاوان وکړی اودښخو دپاره دهغه یعنی دجګړی دوام به ډیر زړه تنګی راولي .

دلته د یوی امید واری هیلی ترسترګو کیږی او هغه په ایران او مصرکی دځوانانو خوځښت او جنبش څخه عبارت دی چی د لته په افغانستان کی دغه جنبش او حرکت دغوړیدو په حال کی دي ، اوپه دغه هیوادونو کی زیاتر همدغه ځوانانو پوری اړین دی چي څوک باید دهغو ددفاع دپاره میدان ته را ووځی ، دافغانستان نیماي نفوس له (۱۸) کلنی څخه ټیټ عمر لری نوپه داسي یو هیواد کی چي یو شخص مخکی له دی چی (۵۰) کلنی ته ورسیږی نوله دی نړی څخه سترګی پټی کړی نو غیر له ځوانانو نه چي باید خپله برخه لیک پخپله وټاکی نو بل به څوک وی ؟ سربیره پردی چی سلاح، مهمات او پیسي چیری زیرمه کیږی هغه به بل موضوع وی ، مګر یوشی چی باید هیڅکله له یاده ونه ایستل شی هغه دادی چي دغه هیواد د نړی دامپرتورانو په یورسمی قبرستان باندی چیری چی نومول شوی دی ریښتیا دی ، نو امریکایانو ته دا ایجاب کوی چی دجنګ پرځای خپل پام په دی هیواد کی د ځوانانو زده کړی ته واړوی ا وهغو ته لازم فرصتونه مساعد کړی چي پوره زده کړی وکړی اوهم د انجنو د حقونو دتامین د پاره دهغو سره هم غیږ او هماهنګ شی او دا ځکه چی افغانی ځوانانو اوس غواړی چی له دی ګړنګ او باتلاق څخه ځان وباسي .

## حقیقت دا دي ....

زه خپل زده کونکو ته چي په پرورشګاه کی درس ورکوم هغو ته می ویلی دی چي آزادی هغسی چی تا سی په اسا نی سره د هغه احساس

کوی په هغه معنی نه دی اونه هم دومره اسان ترلاسه کیږی بلکه دهغه لاس ته راوړنه اوساتنه که د قانون په چوکات کی هم وی ډیر لوی مسولیت غواړي چی سړی باید د هغه دلاس ته راوړلو د پاره هر راز سر ښیند نی ته چمتو اوسي ، همدارنګه هغوی می پوه کړی چی هرپرمختګ او انکشاف د علم اود پوهي او دتیرو نا کامو کړونو د نه تکرار او دازمایښت اود تجربو په ذریعه تر لاسه کیږی .

دامریکی دولت او حکومت قوانینو ته ډیر زیات پام نه اړوی ، امریکایان اویا د امریکي وګړي بی له دی چي محکمه شی په قتل رسول کیږي (هوکی ،جمهور ریس د پیاوړی قدرت دلرلو دپاره داسی یو حکم لاس لیک کړ چی هغه کولی شی یو امریکایی شخص په اعدام محکوم کړی ،هغه او یا راتلونکی جمهور ریس که چیری په دی پوه شی چی نوموړی شخص د امنیت په مخ خنډ کیږی اویا امنیت د تهدید سره مخامخ کوی ).امریکایان لاتر اوسه ربړول کیږی ،او دا دامریکی دمتحده ایالاتو دولت اوحکومت دی چی دخپل خلکو په کورونو کی بی له مخکینی خبرتیا ور ننوزی اویا دا دامریکی واکداران دی چي بی له کوم قانونی مجوز پر نورو هیوادونو باندی یرغل کوی ، دغه بی پروا او متکبر امریکایان دی کوم چي د افغانستان په دی روانه جګړه او یا هر نورجګړو کی دخپل غلطیو اواشتباه ګانو څخه عبرت نه اخلی او هیڅکله دخپل خطا ګانو مسولت پرغاړه نه اخلي .

دتاریخ په اوږدو کی دامریکی امپراتوری لکه دهر نور امپراتوری په څیر دی ، ما داوباما هغه له فصاحت اوله بلاغته ډک وینا تیره اونی په دقت سره واورید او ما د خپل ځان سره فکر وکړ چي هغه بیمار اوناروغ دی او داځکه کله چي هغه دطالبانو د مقاماتو سره د مستقیم مذاکری په اړه وینا کول د هغه څخه ټول هغه مواضع او موارد فاش اولوڅ شو او هغه په ښکاره توګه سره وویل چی هغه زه یم چي داجګړه مخ ته وړم ، نور پاتی وینا یي لکه دپخوا په شان له سرلوړی ، مباهات

، لوړتیا غوښتنی اد امریکی دآزادی له هغه دریایی مشعل څخه په مباهاتو سره یادونه وه چی دنړۍ نورو آزاد پسندو خلکو د پاره دیو لاربنود د نده ترسره کوی ، هغه یعنی اوباما دامریکی جمهور ریس پخپل پرانیستی وینا کی د(آزادی ) دبرج له جوړونو څخه چی دامریکِي دویجاړ شوی تجارتی مرکزپه حریم کی جوړیږ.ی اویو له ډیر لوی او به نړۍ کی یو ډیر ښکلی برج به وی هم یادونه وکړ ، اما ماته دغه برج لکه د نارینه د اله تناسلی دسمبول په بڼه ښکاری یا د استکبار اود تکبر یو ځلي په څیر، هغه برج په هیڅ صورت سره د قربانی اود ځان تیریدنی د سمبول حیثیت به و نه لری کوم چی خلک له هغه څخه عبرت واخلی یا هغه ته عظمت قایل شي .

دا دتوریستانو اودجهان ګردانو ګناه نه دی چی دیوشی دلیدو څخه تجربه تر لاسه کوی بلکه دا د شاهد ګناه دی چی دهرشی دلیدو څخه وروسته منکر کیږي .

آین پونډ س :په کابل کی ژوند کوی تاسی کولای شی چی هغه سره په دی لاندی ایمل اړیکی ټینګ کړی :

ian. pounds@gmail.com

په درناوی